هغه ، چي څه لري هغه خلاصيږي ، خرما ،اوبه يې ختي په تيانو کي يې شيدي ، ماشوم يې ورته ژاړي ، ددوو غونډيو ترمنځ، چي نن حاجيان دهغي ترمنځ سعي کوي صفا اومروي ترمنځ هغه هڅه کوي ، کله ديوي غونډي پرسر ودريږي شاوخواته وګوري که چيرته کومه قافله په نظر ورشي ، انسان په نظر ورشي او به په نظر ورشي ، مګر څه نه ګوري بيا د بلي غونډي په لوري منډي وهي کله سلو،کله په منډه ، هلته ځي ودريږي کله خپل ماشوم ته ګوري اوکله هم شاوخوا ځاري ، خو بالاخره الله جل جلاله دحضرت اسماعيل (ع) د پښو لاندي اوبه راباسي (چينه)موربي زوي ته راځي ګوري اوبه دي ، غواړي په شګو يې بندي کړي ، خو هغه نه شي تم کولي په مدار ، مدار زياتيږي ، هغه اوبه ترننه پوري رواني دي ، دزم زم چينه .

ورونو ! لکه څنګه چي حضرت هاجر(رض) د صفا او مروي ترمنځ منډي وهلي . الله پاك دا دخپل عبادت دمناسکو څخه وګرځول دحج دمناسکو څخه اوحجاجو ته يې امر کړي چي هغوي به ددي دواړو غونډيو ترمنځ دهاجر (رض) په شان منډي ووهي ترڅو هماغه خاطره دتل له پاره ژوندي پاتي شي ، هغه چي په خداي يې توکل وکړ اوالله ورته د رزق او روزي چاره وکړه .

حضرت ابراهيم (ع) ، چي کله دخپلي بي بي او زوي نه رخصتيده ، همدا دعايي وکړه ربنا اني اسکنت من ذريتي بوادغير ذي زرع عند بيتك المحرم ربنا ليقيم الصلواة فاجعل افئدة من الناس تهوي اليهم وارزقهم من الثمرات لعلهم يشکرون ط

اي زموږ ربه ! ما دخپلي اولادي نه ، ځني په دغه وادي کي چي کشت ،فصل او زراعت پکي نشته، تاته پريښودل ددي لپاره چي هغه ستا عبادت وکړي ، دخلکو زړونه دهغوي په طرف مايل کړه ، او له ميوونه هغوي ته رزق

دشهيد پروره پلار او قرباني ته چمتو زوي په لاس چي کوم کور آباد شوي الله پاك دا خپل کور ګڼي (عند بيتك المحرم

د با احترامه قدرمني خوني شاوخوا ته الله پاك دابراهيم (ع) اواسماعيل (ع) په ماحول کي کلي اوبالاخره لوي ښار جوړکړ . دا هماغه ابراهيم دي ، چي دخپل ملك نه شړل شوي پلار ورسره مخالفت کړي دي ، قوم دهغي برخلاف متحد شوي ، هغه د اور په لمبو کي ګذار شوي ، بالاخره له خپل ملك نه په هجرت مجبور شوي . دټول قوم نه يواځي يوکس په هغه باندي ايمان څرګند کړي حضرت لوط (ع) ديته اړ شوي ، چي خپل ملك پريږدي دسترتړو او کړاوونو سره مخامخ شوي بالاخره دهمدغه ابراهيم (ع) په لاس ، چي کوم کور آبا دشوي دا دي ترنن پوري چي په زرګونو کلونه دهغي نه تيريږي ، خلك دحج له پاره هلته درومي ، دهماغه ابراهيم (ع) دي دعوت ته لبيك وايي ، الله پاك ورته امرکړي ، و اذن في الناس بالحج ياتوك رجالا وعلي کل ضامر من کل فج عميق

دخلکو ترمنځ دحج له پاره غږ اوچت کړه خلك د حج له پاره راوبوله . له لري لري ځايونو نه،په خلك پياده او په ونګرو اوښو چي اوږده مزلونه يې کړي ، دي طرف ته رادرومي .

لبيك به وايي .

کله چي په هغه کور دخلکو سترګي لګيږي همدا ندا اوچتوي . همدا غږ لبيك اللهم لبيك موږ تياريو اي زموږ باري خدايه ! دادي ستادعوت ، ته مو اجابت کړي لبيك مووېلي همدا راز ، چي څوك دخداي په لاره کي په اخلاص سره قدم اوچت کړي ، دهغي په نقشي قدم به په زرګونو مليونو نه کسان درومي . ابراهيم (ع) دهغه نمونه ده . هغه ته وويل شوي و چي خپله ښځه اوماشوم په هغه وادي کي پريږده ،همدا راز موږ ته امرشوي ، چي دالله په لاره کي به هجرت کوو.

خپل ملك به پريږدو ، په خداي به مو اعتماد وي درزق او روزي ضامن موخداي دي

، چي کله ستا په ټولنه کي کفر مسلط شو فتنه او دخداي دين قايم نه وو ، فساد و ،

قدرت دکافرانو اوظالمانو په لاس کي و دمقابلي توان دي نه درلود دالله په لار کي به هجرت کوي ، ستا د رزق او روزي ضامن خداي دي ، دادي دجد مثال دي ستا په وړاندي دي ابراهيم (ع) په هغه وادي کي خپل ماشوم زوي حضرت اسماعيل (ع) اوخپله بي بي يواځي پريږدي الله ورته درزق او روزي انتظام کوي.

ددنيا له ګوټ ګوټ نه تر ننه پوري دابراهيم (ع) ددي دعا مطابق دهر موسم ميوي راځي ، تاسي وګال په هرموسم کي ، چي مکي ته لاړشي ددنيا دهرګوټ اوهر موسم ميوي به ومومي .دا دهماغه ابراهيم (ع) دعا وه . الله پاك ستاد رزق او روزي ذمه واردي که تا دخداي په لاره کي هجرت وکړ دالله له پاره دي ملك پريښود ، خداي به ستادرزق او روزي تضمين کوي .

دادي د ١٤ کلن جهاد په جريان کي عملاً موږ ته وښودلي شو ، په ابتداکي ، چي موږ هجرت کولو ، پاکستان ته نشو اي تلاي ،ګمان مو کاوه ، چي پاکستان به مو دوباره حکومت ته تسليم کړي ، ايران ته مو هجرت نه شو کولي.

فيصله مو کړي وه ، چي په افغانستان کي به پاتي کيږو مخفي کار به کوو. بالاخره مجبور شولو پاکستان ته مو هجرت وکړ، پنځه کسه افغانان په پاکستان کي په داو اواطمينان سره نشو اوسيدلي خو الله پاك هغوي ته د دري نيم مليونو مهاجرينو بندوبست په پاکستان کي وکړ.

ستا د مهاجر ، يتيم ،کونډي ارمان به ترسره کيږي دهغوټولو ارمان داو چي په افغانستان کي اسلامي حکومت راشي ، اسلامي حکومت لا نه دي راغلي دا خنډيدلي ، دښمنان له دينه ويريږي ، نه غواړي چي په افغانستان کي اسلامي حکومت قايم شي .

فکر کوي که په افغانستان کي دجهاد نه پس يو لوي پوځي کفري طاقت دماتيدو نه بعد دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت قايم شي . کيداي شي دا ديو ستر اسلامي انقلاب پيلامه اومقدمه شي او په دي پسي اسلامي امت رابيدارشي هغه له غلامي نه وژغورلي شي.

اسلامي امت به ډيرو بل ځواك بدل شي ، همدغسي ده الله پاك دا دين راليږلي ،چي په ټولو اديانو يې غالب کړي الله پاك دادنيا دخپلوصالحوبندګانو له پاره پيداکړي ، ددي ذمه واردي که کوم ټولګي په اخلاص دخداي په لاره کي ووځي هغه ته به په دنيا غلبه ورکوي موږ باورلرو چي په افغانستان کي به ان شاالله اسلامي حکومت راځي ، امنيت به راځي جګړي به پاي ته ورسيږي يوقوي مرکزي حکومت به جوړيږي ، دازما اوستا فرض دي لکه اوس چي موږديوواجب لمانځه له پاره دلته راغونډ شوي يو ، پرموږباندي دالله په لارکي جهاد ، داسلامي حکومت دقايمولوله پاره فرض دي لکه لمونځ روژه داهم داسي فرض دي ، چي دهغي په خاطرروژه خوړلي شي دا داسي فرض دي چي لمونځ ځنډولي شي ، پيغمبر(ع) ددي فرض دانجام په وخت کي لمونځ ځنډولي داترټولولوي فرض دي هرمسلمان بايد داخبره وکړي ، چي زه به دلمانځه په شان دخداي په

> څوك چي دخداي (ج) په لاره کي قدم اوچت کړي په زرګونو کسان به دهغه په پله درومي

يونيم مليون په ايران کي او په ،مليونها وو مهاجرينو ته الله پاك درزق او روزي چاره وکړه .

بالاخره يې هغوي ته يې په دښمن بري ورکړ ، د روس په شان يو لوي ځواك دهغوي په لاس مات شو، يوه لويه امپراتوري چي په ټوله دنيا يې د حکومت کولو خوب ليده اوچا د هغي دمقابلي جرئت نشو کولاي ، چا د هغي دمقابلي تصور نشواي کولاي ، همدغسي يو لوي پوځي قوت ته الله پاك د دغو افغانانو په لاس ماته ورکړه .

ورونو ! که موږ خداي ته مخلص وو الله پاك ته مو مخه وي دخداي په لاره کي خپل جهاد ته ادامه ورکړو له خداي سره په دي تعهد ټينګ پاتي شو چي دهغي ددين دقايمولو دهغي دکليمي دلوړولو داسلامي نظام دقايمولو له پاره به جهاد ته ادامه ورکړو الله ددي ذمه واردي چي ستا په ملك کي به امنيت راولي ، جګړه به پاي ته ورسيږي ، ددښمنانو د لاس وهنو مخنيوي به کيږي ، قوي مرکزي اسلامي حکومت به جوړيږي ، ستاسو دشهيدانو ارمان به ترسره کيږي ستاسو دفرد فرد ارمان به ترسره کيږي.

لاره کي جهاد کوم دلمانځه په شان په ماباندي جهاد فرض دي ، لمونځ دورځي پنځه ځله روژه په کال کي يوځل او حج په عمرکي يوځل ، خوجهاد داسي فريضه ده چي په وخت پوري مربوط نه دي ، هره شيبه مکلف يې چي دخداي په لاره کي به جهاد کوي ، دحق ملاتړبه کوي دباطل مقابله به کوي ، دفساد او ظلم مخنيوي به کوي ، ظالم به له لاسه نيسي دمظلوم ملګرتيا به کوي ، ته به نه پريږدي ، چي ستا په ماحول کي فساد ظلم اوتيري وي ، دبل چا په حق باندي ظلم اوناروا وي .

څوك چي دحق نه ساکت، و ګونګ شيطان دي دجابربرخلاف دحق کليمه ويل همداجهاد دي الله پاك تاته امرکړي ، چي دهغي دين تا ماموره کوي ، چي په مال نفس او ژبه به دخداي په لاره کي جهاد کوي ، که هرڅوك همدارګني دا دهغه فرض دي له حق نه دفاع د اسلامي حکومت قايمول دظالم مقابله اودمظلوم ملګرتيا که هرچا داګڼلي واتي احساس دمسوليت ني کړي واتي لاډيرمخه به په کابل کي اسلامي حکومت قايم شوي واتي چامقابله کوله ، څوك بي تفاوته و ، چا دهغه پرخلاف تبليغات کول ، ويلي دا دقدرت له

پاره جنګ دي ! خوهماغه چي وړلي به ني واجهاد نه دي دا دقدرت له پاره جنګ دي نن

هماغه هم راولاړشوي دي ، ديته مجبورشوي چي دګيريرسرو واتي داحکومت غيراسلامي دي دهغي پرخلاف جهاد فرض دي داواجب العزل دي بايد اسلامي حکومت قايم شي ، نن هغه هم خپل جهاد ته ، جهاد واتي خپل شهيد ، شهيد ګڼي ،که دري کاله دمخه دغوټولو يوبل ته لاس ورکړي واتي اويه ګډه ني داسلامي حکومت دقايمولوله پاره ني ملاترلي واتي په کابل کی به داووزده جګړه نه وابي شوي دري کاله به جنګ ادامه نه کوله اوس به په کابل کي يومرکزي حکومت و ، که هرڅوك داوشي چي داسلام له پاره ټول قوم قرباني ورکړي ، يونيم ميلون شهيدان يې ورکړي ، داسي ټبرنه دي پاتي ، چي داسلام په لارکي ني قرباني نه وي ورکړي ، اوس داسلامي حکومت دجوړولو په هکله د دوي حق دي چي ورته پرينښته وشي ، په چا اعتماد لري ، چانه

جهاد ثورختم شوي دي حال داچي نن ورځ وضعيت دافغانستان دکمونستانو تروخته بدتردي ، تراوسه پوري لا اسلامي حکومت نې جوړشوي ستا جهاد خو داسلامي حکومت له پاره و تاخو داويني ، سرونه‌دي لپاره نذرانه کړي و ، چي دالله دين قايم شي ، اسلامي حکومت جوړشي د الله دين نه دي قايم شوي اسلامي حکومت نه دي جوړشوي .

ستاجهاد پاي ته نه دي رسيدلي ، ته مکلف ني چي داکشتي به ترسرمنزل پوري رسوي ، اسلامي حکومت به قايموي ترڅو ژوندي ني دخداي په لاره کي به جهاد کوي .

صحابه ورپس له هغه ، چي مدينه ني فتح کره ، مکه دهغوي په لاس فتحه شوه ټول عرب ني ونيول ټول حجازهغوي فتح کړو، داسی ني ونه ويل چي نورجهاد پاي ته رسيدلي ، هغوي خپل جهاد ختم شوي نه دي اعلان کړي ترهسپانيا ، يوګوسلاويا پوري تلل هند چين پوري تلل ، ماوراالنهر پوري

> که تاسي له خداي (ج) سره په خپلي وعدي وفا وکړه ، الله (ج) به خپلي ټولي وعدي ستاسي په باب ترسره کوي

قدرت سپاري ، څوك دمشراوزعيم په حيث ټاکي ، که هغه ته داحق ورکړل شوي وايي ، په کابل کی به داجګړي نه واتي ، له هغه نه داحق سلب شوي ، څني په دي ګمان دي چي د روس په مرسته په افغانانو حکومت کولاي شي ، له هند نه ورته پيسي چاپيږي راځي اوبه دي باد راوړو پيسو يې ضميره خلك اخستلي شي اوله دي لاري پرافغانانو حکومت کولاي شي . فکرکوي چي ډيرديو په مرسته کولاي شي پرافغانانو حکومت وکړي . که افغانانو عملاً داښودلي واي چي دوي ضميرفروشه نه دي ، دوي آخرت پردنيا نه خرڅوي ، دوي‌چه خپل عهد دخداي سر ټينګ ولاړوي ، داسلامي حکومت نه پرته په بل شي نه راضي کيږي ، داسلامي حکومت له پاره يې قرباني ورکړي ، نن به کابل کی دخپلي خوښي اسلامي حکومت غواړي دافغواړي چي ورته حق ورکړل شي چي هغه خپل مشراوزعيم وټاکي د کابل داجګړه به نه وه ، دکابل دجګړووجه دا ده ، چي څيني په پرديو متکي شول ګمان ني وکړ چي دنجيب ، ببرك اوتره کي په شان کولاي شي دتوپ ، ټانګ په زور دکودتا ګانو ،سازشونو له لاري دپرديو په مرسته په افغانانو حکومت وکړي نورو دخپل حق مطالبه ونه کړه ، ساکت او خاموش پاتي، شرل ګمان ني وکړ ، چي دهغي

تلل ققفاز او افريقاني نيوله ، په هند کي دهغوي شعارداوو چي هرملك زموږ ملك دي داځکه چي دا زموږ دخداي ملك دي هغوي له الله سره په دي عهد کړي وو چي څو ژوندي يو ، دخداي دکليمي داوچتولو له پاره به جهاد کړو ، په ټوله نړي کي به اسلامي حکومت قايمو ، هغوي په دي باورو هغوي دالله سره داوعده وه په دي وعده ني وفاکړي ،الله جل جلاله همدغسي هغوي ته فتح اوبري ورکړي ټوله دنيا دهغوي په لاس فتح شوه ، دټولي دنيا خلافت هغوي ته وسپارلي شو دټولي

ځمکي ششتني هغوي ته په ميراث ورکړل شوي دټول عالم قيادت اورهبري هغوي ته وسپارلي شوه ، فکري ، اخلاقي اوسياسي رهبري اوقيادت که موږ هم په خپل عهد له خداي سره ټينګ پاتي شو الله به خپلي وعدي زموږ په باب ترسره کوي دالله وعدي مشرط دي (واوفوبعهدي اوف بعهدکم) له ماسره چي تاسي په کومي خبري عهد کړي په دي وفاوکړي زه به هم په خپلي وعدي له تاسوسره وفاوکړم .

که تاسي له خداي سره په خپلي وعدي ؤمني وفاوکړه الله به خپلي ټولي وعدي ستاسي په باب ترسره کوي خداي پاك په خپلو وعدو کی ربښتي دي اوبه هرکارقديردي .

په نايانو کښي نايان

امرالله امید

دحالاتو په بدليدو سره يقين دي وشه چي په خلکو کښي هم بدلون راغلي دي ، پخوا به دآب اوعزت سري معلوم و ، ميا، ملا اوسيد ته به خلکو احترام کاوه ،او ويل به يې چي داخلك نسبي خلك دي . همدا شان به په چم اوګاونډ کي جټ ، جولا هم معلوم و .

زمامقصد دا ندي چي ګني په نسبي اوبي نسبه کښي څه فرق شته اصلي خبره خو په تقوي او پرهيزګاري کښي ده . خوخبره مي داکوله چي کله به دميا ،ملا پادهغوي د ژامنو څخه کوم خراب کار وشو . نو خلکو به ورته ويلي چي تاسي خوخپلي جامي ته وګوري ، قام او نسب ته مو وګوري داکار کله ستاسي د سپيني جامي سره زيب کوي !! نودميايا ملاصاحب زوي به هم دا ومنله چي رښتيا هم زموږ سره داسي کار ندي لازم چي څوك دي موږ ته ګوته ونيسي.

اوکه به دکوم نايي پامـلي ځوي کوم ناوړه کار وکړ ،نوخلکو به ويل چي دهغوي نه څه ګيله پکارده ؟ بي نسبه خلك دي کوي به يې نو . خبره دي پوري راغله چي ابله ورځ په ښار کي تيريدم چي دجهاد دسنګر دوخشونو په يومجاهد ملګري مي سترګي خوږي شوي . ګورم چي په لځوکي ناست اوخپل ټوپك يې په زنګون ايښي دي داسي ښکاريده چي دکوم سرکاري دفتر پهره داري يې کوله . زه هم ورغيرګ شوم ځنګ ته ورغلم .

دليدو سرهسم راترغاړي شو روغبړ مو سره وکړ اوخپله ځوکي يې ماته پريښوده موږلايو دبل داحواله پوره ځان ته و خبرکړي ، چي دسرك په مخ دخلکو ګڼه ګوڼه شورواوهاها جوړه شوه ، داسي ښکاريده چي ګونډي ځوك موټر ووهه . موږ هم ورغطا شو چي څه خبره به وي ګورو چي يو سري يو ځلمي هلك له ګريوان څخه نيولي ، رد بد ورته وايي او دبازار په لـګونه خلك وريسي دي . اودخلکو دا کاروان زموږ په طرف را روان دي . کله چي زموږخواته راورسيدل نو ځلمي هلك ته وايي چي مجاهدين مجاهدين دي کړل دادي مجاهدين ورته ووايه چي څه ورته وايي . دا چي زه دخپل مجاهد ملګري نه مشر وم نو په موضوع دځان پوهولو حق يې ماته راکړ. او راته يې وويل امید صيب ! د دوي فيصله ته وکه .

ددوي ترمنځ لاشور همغسي په خپل حال و . ورنه مي وغوښتل چي ورونو ! موږ په خبره پوه کړي چي څه خبره ده . ځلمي هلك چي سترګي يې له اوښکو ډکي دي او په لاس کي يې يو زرګون لوټ لبدل کيده په ژړغوني آوازيې وويل ! – ماما ددوي په (دوکان) کي مي د سر ويښتان جوړکړه اوس راته دالوټ نه اخلي راته وايي چي دانه چليږي او ديي وهلم . په رښتيا هم هلك سترګي په ژړا سري کړي وي داسي ښکاريده چي ډير رټل شوي وي . پداسي حال کي چي د يې کسي احساس يې په مخ داوښکو لاري جوړي کړي وي په ژړا او سلګويي راته وويل ... يې وګوره چي دا لوټ ناچله دي ! پوه شوم چي سوموري سري چي هلك يې ... په کش کولو راوست نايي اوپادکومي ...

جنګ های شدید همچنین

مبارزين چيچين ازمناطق هموار اين کشوريه جانب مواضع مبارزين درمناطق کوهستاني شمال، درقفقازکشانيده شده است .

###

دهلمند ولايت ...

ده په خپل ربوټ کي ويلي چي دنوموړي ولايت دنوزادولسوالي پخوادحزب اسلامي مجاهدينونيولي وه .

هيئت مشترك ...

فعاليت هاي تجارتي راشروع کرده اند وموسسات خيريه به کمك شوراهاي محلي مصروف فعاليت هاي اعمارمجدد ميباشد.

ثاقت ګفت که وضع مهاجرين بي جا شده درداخل افغانستان نظر به مهاجرين افغان مقيم پاکستان بسيارخراب ميباشد لهذا بايدکمك ها به داخل افغانستان فرستاده شود تادرآنجا براي اعمار سرك ها مکاتب وکانال ها استفاده به عمل آيد.

جفري ثاقت ګفت پيشنهاد وي اين است که براي مردم درمقابل کارمواد غذايي توزيع ګردد که چنين کار نه تنها براي اعمارمجدد افغانستان مفيد خواهد بود بلکه براي برقراري صلح نيز فايده خواهد کرد.

درين راپور کمشنري عالي ملل متحد براي پناهندګان ګفته شده است که کمك هاي آن مؤسسه درکمپ ها براي بسياري مهاجرين بعد از پنج ماه قطع خواهد شد وتنها براي يکتعداد خانواده هاي محدود که بسياربي بضاعت بوده يا اعضاي فاميل آنها معيوب باشند وياازبچه ها ويتيمان سرپرستي کنند ، کمك خواهد کرد .موسسه مواد خوراکه ملل متحد ګفت که اين موسسه درداخل افغانستان مقدارکافي مواد غذايي دارد اما درامر رسانيدن آن به مراکز توزيع بامشکل مواجه ميباشد.

نماينده اين موسسه ګفت که يافتن راه حل براي ارسال مواد به مراکز توزيع در داخل افغانستان تحت غور قرار دارد.

هند دپاکستان پرخلاف پوځي عمليات غوره بولي

نوي ډهلي - دغويي ٢٤ مه :

دهندکورنيو چارووزير راجيش پايلت دتيري پنجشنبي په ورځ دپاکستان پرخلاف دپوځي عمل دترسره کولو ګرايش کړي و اوزياته کړي ني وه چي شايد هند دپاکستان ترولکي لاندي کشمير هم ترخپل تصرف لاندي راولي .

ديوبل خبرله مخي همداراز دشنبي په ورځ راجيش پايلت په نوي ډهلي کي يوځل بيا په خپلوبيخوانيو څرګندونوټينګاروکړاودپاکستان پرخلاف ني دپوځي عملياتولار بهتره وګڼله .

له بلي خوا دپاکستان دباندنيوچارو وزير آصف احمد علي له ټورو هيوادونوڅخه غوښتني ،چي له هندڅخه غوښتنه وکړي چي دپاکستان په خلاف دجګړي داعلانولو ګواښونه بس کړي اوپه کشميرکي دانساني حقونورعايت اودرناوي وکړي .

دوتن ازوزيران دولت هند بدون حصول کدام نتيجه يي ازکشمير اشغالي وارد دهلي شدند

دهلي جديد - ٢٥ ثور

دوتن ازوزيران دولت هند که براي تهيه ګزارش درباره برخورد هفته پيش مبارزين مسلمان ونيروهاي امنيتي آنکشور به بخش کشميراشغالي رفته بودند به سفرخود پايان دادند .

درطول اين سفردوعضو ارشدکابينه هند چاوان وزيرداخله ومالموهان سنګ وزيرماليه آنکشور تدابيرامنيتي شديدي به کارګرفته شد

آنان بدون صدور هرګونه اطلاعيه اي به دهلي بازګشته اند .

درخبر آمده است درجريان اين خشونت هاوهنګام حمله نيروهاي امنيتي هند به زيارت چرارشريف آن زيارت ، مسجد جوارآن وچند صدخانه درآن شهريه علت بروز آتش سوزي ازبين رفت.

##

دافغانستان ستونزي بايد دخبرو ...

زموږ دسفربواځني هدف داوچي دجګړه کونکو ولو ترمنځ جګړي ختم اوديوه سوچه اسلامي حکومت دجوړيدوله پاره لاره هواره شي .

مجاهد وويل چي زموږ داځي به همداسي رواني وي ترڅو يوسالم حل رامنځ ته شي .

ده له ټولو جهادي تنظيمونو څخه وغوښتل چي خپل اختلافونه دخبروله لاري حل و فصل کړي ترڅو په هيواد کي سوله

اوامن ټينګ شي .

محترم مجاهد وويل : په افغانستان کي هيڅ قانون نشته اوهيواد دبيلابيلو ولو په لاس کي اودلويي بدبختي سره مخامخ شوي دي .

ده ننګرهار ته درباني دسفردهدف په باب وويل چي زه درباني دسفرله هدف څخه خبرنه يم خوهرمشرچي ننګرهارته سفرکوي اوهيوادته دځان سره دسولي پيغام راوړي موږتي هرکلي کوو.

دتاجکستان امنيتي ځواکونو (١٥) وسلوال کسان ونيول

دوشنبه - دغويي ٢٤ :

دروسيي دخبررسولو آژانس ايتارتاس ريوټ ورکړي ،چي دتاجکستان امنيتي ځواکونوپه دوشنبي کي دحکومت مخالف (١٥) وسله وال کسان ونيول .

دتاجکستان امنيتي مقاماتو ويلي چي دوي دغه (١٥) کسان دتاجکستان دجمهوررئيس امام علي رحمان اوف دوژلو دکوښښ په تورنيولي دي .

په راپورکي زياته شوي چي امنيتي ځواکونو دنوموړو کسانوڅخه يومبايل راکټ هم ترلاسه کړي ،چي جمهوري رياست ته نژدي په يوماڼي کي ايښودل شوي و .

دجاپان دناريتا په هوايي ډګر کي چاودنه وشوه

توکيو - دغويي ٢٤ مه :

په جاپان کي پوليسو ويلي ،چي دناريتا په هوايي ډګرکي چي دټوکيوله ښارنه بهرپروت دي يوه سخته چاودنه شوي اوددي چاوني له امله دترمينل ودانۍ ته سخت زيان رسيدلي .

دپوليسو يوي باخبره منبع ويلي چي پوليسو دپلټني په وخت يوفولادي نل پيداکړ چي پکي ديول برنګ فولادي تشلي ځاي پرته وي اوبوه ساعتي بم سره لګول شوي وي .

دحضرت شيخ نورالدين ولي (٦٥٠)...

او (٦٥٠) کلنه پخواني مدرسه داور په لمبو کي په شهادت ورسيدل.

د (١٣٠٠) بابو ودانيو څخه زيات کوروته هم وسوزول شول چي په زرګونو خلك بي کوره او په مليونونو ششمتي يي لوټ اوتالان شوي د دوو سوو ټنو څخه زيات کسان په شهادت ورسيدل اوهمدا راز د هندي کماندو ټولګي څخه (١٧) تنه پوځيان دخلکو لخوا په لرګيو اوګانو مردارشول. دهندي پوځ لخوا ددامسي تاريخي اوننګين جرم په ارتکاب سره په ټوله اسلامي نړي کي دکرکي اونفرت اور بل شوي که څه هم دهندي واکمنو لخوا په اشغال شوي کشمير کي په‌ګرځيدلو بنديزوضع شوي ، خو بي دفاع مسلمانان دخپلو سرونو په بيه لارو کوڅو ته وتلي ، سره له دي ، چي دغاصبو پوځيانو د مردکيو نښه ګرځي.

خپل احتجاجي مظاهرو اولاريو تونو ته دوام ورکوي .

خبرښتيزه خبره داده ، چي آيا په اشغال شوي ؟کشمير کي داسلامي اقدارو اومقدسو و دانيو اوجوماتونو د بي حرمتي د پيښو په مقابل کي پاځون اواحتجاجونه بواځي په کشميري مسلمانان پوري اړونديږي که داد ټول اسلامي امت مسئله ده ؟

که بواځي په اشغال شوي کشمير کي دا هرڅه دکشميري مسلمانانو دنده وبولو؟ نو هغوي د خپلي مقدسي دندي په ترسره کولو کي له هيڅ ډول قرباني څخه ډه ډه نه ده کړي . خوموږ ولي دسيل بين اوتماشاچي په توګه دغاصبو هندي پوځيانو هر ناروا اوکرغيړن عمل وزغمو ايا موږ په دي باب داسلامي امت دير غړي په توګه په دي باب احساس دمسؤليت نه لرو ؟ آيا د اسلامي هيوادونو مشران به تر پايه پوري دهمدا ډول ظالمانه اعمالو په‌وړاندي چوپتيا غوره کوي ؟ اوکشمير بي دفاع مسلمانان دغاصبو هندي پوځيانو دتيرو ،وحشت او ناروا ظلمونو په وړاندي يواځي پريږدي ؟؟؟

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شماره مسلسل (۹۳۷) سه شنبه (۲۶) ثور ۱۳۷٤ هـ ش

فرمان الهی

آنچه نزدشماست تمام وفاني مي شودوآنچه نزدالله است باقي وپاينده مي باشد،وآنانيکه صبرواستقامت نشان دادند دربدل اعمال شان بهترين اجروپاداش براي شان ميدهيم .

(نحل -۹۶)

ارشادنبوی

حضرت جابررضي الله عنه روايت مي کندکه پيامبرعليه السلام فرمود: هيچ نيکي راکم وحقيرمشمار(که آن راروي اين انگيزه ترك کني) واين هم ازنيکي است که بابرادرمسلمانت باچهره بشاش وخنده پيشاني پيش آمدکني واين هم اززمره نيکي است که ازدلوخود به ظرف برادرت آب بريزي . (ترمذي)

راځي خپل دين زده کړو

حج اواحکام ئې

دعمري حکم : دعمري په حکم کي دفقهاوترمنځ اختلاف نظرموجوددي، ځيني هغه ته دحج په شان فرض وايي اوځيني تطوع اونفل .

امام ابوحنيفه (رح)، امام مالك (رح) اوابوثور (رح)، دتطوع اوسنت والي قايل دي اوهدي نظردصحابه ونه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اودتابعينونه ابراهيم نخعي (رح) هم دي، ددوي دليل لاندېني حديثونه دي: جابررضي الله عنه روايت کوي چي دپيغمبرعليه السلام حضورته يوه‌هاتي سړي حاضرشواوعرض ئي وکړ چي اي دخداي رسوله ! آياعمره فرض ده ؟ پيغمبرعليه السلام وفرمايل نه ، هوکه ته عمره وکړي نوستاليپاره بهتره ده . (ترمذي ، احمد، بيهقي ،ابن ابي شيبه)

بل حديث شريف کي راځي عبدالله بن عباس رضي الله عنهماروايت کوي چي پيغمبرعليه السلام وفرمايل : حج جهاددي اوعمره تطوع .(بيهقي ، هيثمي)

(نوربيا)

دجنبش ملی اوکابل اداری دځواکونوترمنځ خونړی نښتي شوی

• دجمعيت اونظارشوراځوقوماندانان له جنبش ملی سره يوځاي شول

مزارشريف - دغويي ۲۵ :

دکابل اداري ددفاع وزارت په خپله يوه خپره شوي اعلاميه کي ويلي چي دهيواد په شمالي ولايتونو کي دجنبش ملي اودکابل اداري دځواکونوترمنځ خونړي نښتي پيل شوي دي اوپه اعلاميه کي دمرگ اوژوبلي په باب څه ندي ويل شوي.

له بلي خوا له شمالي ولايتونوڅخه راغلي عيني شاهدان وايي چي پدي ورورستيو اونيوکي دجوزجان ولايت دجمعيت اوشوراي نظارڅوقوماندانان له جنبش ملي سره يوځاي شوي اوخپلي وسلي ئي دجنبش ملي ځواکونوته تسليم کړي دي .

له بلي خواتيره شپه دبي بي سي راديو دکابل ديوه تش په نامه وزيرله خولي په خپل خبري سرويس کي وويل چي دکابل اداري دجنبش ملي دمشرجنرال عبدالرشيد دوستم سره خبري پيل کړي خودخبرودنتايجو په باب ئي کوم تفصيل ندي ترلاسه شوي .

اسرائیل درزمین هاي غصب شده يك مركز پوليس اعمارمينمايد.

بيت المقدس - ۲۵ ثور :

اسرائيل ضمن آنکه باره‌ديگرتصميم خودرابه ضبط قسمتي اززمين هاي اعراب در بخش شرقي بيت المقدس مورد تأکيدقرارداده، قول داده است از اين به بعدزمين ديگراعراب رابدون ضايت آنان مصادره نکند .

اسحق رابين صدراعظم اسرائيل دريك نشست کابينه آنکشور ازطرح مصادره پنجاوسه هکتارزمين که بخش عمده آن به اعراب تعلق دارد جانب داري کرد .

وزارت مسکن اسرائيل ميگويد درين زمين ها علاوه به اعماراماکن براي يهودان يك مرکزپوليس نيز ساخته خواهدشد .

خبرحاکيست که اين تصميم موجي ازاعتراض درجهان عرب را به وجود آورده است .

کابينه رژيم صهيونست پيشنهاد انصراف ازاين تصميم راکه ازطرف حزب دست چپي ميريزمؤتلف دولت فعلي داده شده بود ردکرد .

رهبران فلسطينيان ميگويند اين تصميم اسرائيل مغايرپيمان صلح آشکوربافلسطينيان ميباشد.

خبرمي افزايد که درين زمينه دکتورعصمت عبدالمجيد دبيرکل جامعه عرب براي بحث درين باره رهبران کشورهاي عربي رابه يك ديدارومذاکره فوري دعوت کرده است

دایران پرخلاف :

یاسرعرفات داسرائیلوسره گډي همکاري ته چمتو شو

دفلسطيني دنيمه خودمختاري اداري يومهم غړي اولوړرتبه مامور ويلي چي ياسرعرفات دايران پرخلاف داسرائيلي اهدافو دپښتيبا له پاره ځان همکاري ته چمتوکړي دي .

دپاريس نه دخپريدونکي عربي ورځپاڼي (المحرر) ديوه خبريه اساس ويل کيږي چي نوموړي لوړ رتبه مامورهغه ويدپرکست ،چي دياسرعرفات ،رابين اوداسرائيلو دباندنيوچارو وزير (پيريز) ترمينځه دايران پرخلاف ديټ پلان دترتيبولو پرسرخبري پلي شوي دي دنوموړي اخباراداري ته سپارلي دي.

په خبرکي زياته شوي ، چي په نوموړي پټه غونډه کي دفلسطين داسلامي جهاد اوحماس دگروندونو پرخلاف دپوځي عملياتوپه سرته رسولو سربيره دايران اوعراق پرخلاف ديوي گډي امنيتي کميټي په جوړولو هم فيصله شوي . په خبرکي ويل شوي چي اسرائيلي کابيني دنوموړي کميټي دلگښت له پاره دپنځوملپونو ډالرو پانگي ورکولو عاجله فيصله هم کړي ده او ياسرعرفات داسرائيلي واکمنوسره دکړي ژمني په اساس په فرانسه کي خپل نماينده ته تاکيد کړي ، چي دايران دمخالف گروند (مجاهدين خلق) پوهيښت ته بلنه ورکړي ترڅوددغې دتړاري څخه ليدنه وکړي اوهلته دايران پرخلاف دايران په داخل کي دمجاهدين خلق همکاري اوملاتړترلاسه کړي.

دياسرعرفات اواسرائيلو دگډي امنيتي کميټي له پلان له مخي ممکن په راتلونکو دوومياشتوکي دمجاهدين خلق په همکاري دايران په حساسونظامي اواداري مراکزوکي دجاسوسي الکترونيکي آلي نصبي کړي شي ترڅوپه اسانۍ سره اسرائيل وکولاي شي دايران پټ پوځي رازونه کشف کړي .

###

کشمیري مبارزینو په نیول شوي کشمیرکي په تظاهراتو سربیره دهندوانو درسالونوته اورونه اچولي

سرينگر - دغويي ۲۳ :

په چرارشريف کي دپنځشنبي دورځي په وژلواوپه نوموړي ښارکي دمسلمانانو ديوي پخواني مذهبي مقبري دړنگولو له امله دکشميرپه بيلابيلوسيمواوښاريوکي دمظاهرواواحتجاجونولړي روانه وه .

دسرينگرڅخه دترلاسه شوو خبرونوپه حواله ويل کيږي چي اوس دغه ښار په بشپړه توگه داحتجاج صحنه غوره کړي ده .

په نوموړي ښارکي دغاصبوپوځيانو لخواپه ټگ راتگ بنديزلگول شوي دي ، مگرپياهم کشميري مسلمانانودبنديزونوسره سره په احتجاجونواومظاهرو لاس پورې کړي دي .

ديوه بل خبرپه حواله ويل کيږي چي هندانوادکشميرپه بيلابيلوسيموکي دشيخ نورالدين ولي دمدرسي، جومات اومقبري دړنگولوڅخه اخستلوپه منظورهندوانوپه درسالونواومعبدونو) باندي هم حملي شوي اواوروته وراچول شوي دي .

قاضي همايون له سياف سره وكتل

کابل - دغويي ۲۵ :

دکابل ولايت ديغمان ولسوالي څخه اتحاداسلامي ته نژدي يوه باخبره منبع خبرراکوي چي ورمه ورځ په افغانستان کي دپاکستان سفيرمحترم قاضي همايون داتحاد اسلامي له مشراستادسياف سره وکتل اوداافغانستان دروانې وضعي دحل وفصل په باب ئي ورسره خبري وکړي .

خبرځاي ليکي چي سياف دقاضي همايون سره دخبروپه ترڅ کي په کابل کي دپاکستان دسفارت دبراتستوپه باب خوښي ځرگنده کړه اوداکارئي دافغانستان اوپاکستان ترمنځ پوښلو اقدام وباله اوويي ويل چي داکاريه دپاك - افغان دوستانواړيکي نوري هم ښتلي کړي

انتقال گوشت قرباني از عربستان سعودي براي مهاجرين افغاني درپاکستان آغاز گرديد

پشاور ۲۵ ثور

انتقال گوشت قرباني ازعربستان سعودي براي مهاجرين افغاني در پاکستان آغاز شد.

قرار گزارش مطبوعات پاکستاني تا ديروز (دوشنبه) در دو پرواز مقداري از گوشت قرباني ازعربستان سعودي به ميدان هاي هوايي پشاور و کوئته انتقال داده شده و بعداً درکمپ هاي مهاجرين افغان به فاميل هاي مستحق تقسيم گرديد.

خبرمي افزايد که مقدار ديگري ازگوشت قرباني در روزهاي آينده نيز به پاکستان انتقال ويه مهاجرين توزيع خواهد شد.

شهرسرايو وهمچنان تحت حملات سلاح سنگين صربهاقرار دارد

بوسنيا - ۲۵ ثور :

بابسته ماندن ميدان هوايي سرايووقطع پروازهاي کمك رساني سازمان ملل براي ششمين هفته وادامه ممانعت صربها از عبورکاروان هاي کمك رساني به شهرهاي مختلف بوسنيا هرز گوينا وضعيت مردم درمناطق مختلف بوسنيا رويه وخامت است .

در خبرآمده است که مردم شهربيهاج باشرايط بسيارسخت کمبود موادغذايي وادويه مواجه هستند . مردم شهرسرايوو پايتخت اين کشورنيز که زيرشديد ترين حملات سلاح سنگين صربها قراردارد روزبه روزشاهدافزايش قيمت هاي مواد غذايي موجوددرين شهراست .

درعين حال مقامات سازمان ملل بااشاره به اينکه صربهاي بوسنيا مواضع شان رادراطراف پايتخت اين کشورتحکيم بخشيده وازمذاکرات براي بازگشايي ميدان هوايي امتناع مي ورزند گفت افسران صرب گفتگوبراي برقراري مجددارتباط هوايي سرايوورا تاروزسه شنبه به تعويق انداخته اند .

قراريك خبرديگرارودوي کرواتي يك مرکز صربهارابامو شك مورد حمله قرارداد .

قرارگزارش خبرگزاري فرانسه درين حمله موشکي تعداد زيادي کشته وياز خمي گرديدند وامااز خسارات اين حمله تاکنون گزارشي دردست نيست .

شيخ عبدالله شامي له بندڅخه آزادشو

اريحا - دغويي ۲٤ :

داسلامي جهادپو مشر شيخ عبدالله شامي، چي دبنديخاني نه خوشي شووويل ،چي په اسرائيليانډي بايد تريوڅته پوري وسله والي حملي بندي شي .

ده دبندنه دخوشي کيدو په وخت وويل : چي په بندي خاني کي زماپه نظر څه بدلون نه راغلي دي، ده وويل چي دفلسطينيانودگټوساتلو په خاطر ضروري ده ، چي تريوه وخته پوري پراسرائيلوحملي بندي شي .

دفلسطين حکومت شيخ عبدالله شامي دجنوري په مياشت کي وروسته له هغه بندي کړ، چي داسلامي جهاد سرتيرو مجاهدينو په مرکزي اسرائيلو کي ديم په چاودنه کي ۲۱ تنه اسرائيليان ووژل.

امريكا په مشروط ډول له تل ابيب څخه بيت المقدس ته خپل سفارت نقلولي شي

جينوا - دغويي ۲٤ :

دفلسطين دخپلواکي موسسه وايي چي که امريکا خپل سفارت له تل ابيب څخه بيت المقدس ته انتقالوي، نوپه هغه صورت کي به په بين المللي محکمي کي دعواکوي

درويتر خبري اژانس وايي چي په ملگروملتونو کي دپي ايل او ناظراستاځي نصيرالکدوا ويلي چي دتل ابيب څخه بيت المقدس ته دامريکادسفارت انتقالول لکه څرنگه چي دامريکا په کانگرس کي جمهوري غوښتونکو پيشنهادکړي دي دبين المللي قانون اودملگروملتونو دفيصلو څخه سرغړونه ده .

پي ايل او دغه راز داسرائيلو دا ورونښي اعلان شوي هغه پلان محکوموي، چي په بيت المقدس کي دعربو ۵۳ هکتاره ځمکه غصبول غواړي .

ايران درظرف ۲۰ سال آينده ده كوره ذروي را اعمارخواهد كرد

تهران - ۲۵ ثور :

رضاعمرالهي رئيس پروگرام ذروي ايران ميگويدکه کشوروي اميدواراست درظرف بيست سال آينده ده کوره ذروي رااعمارکند اماتهران درنظرندارد که سلاح هاي ذروي توليدنمايد.

وي گفت يکصدوپنجاه تن ازمتخصصين روسي هم اکنون دراعمار کوره هاي ذروي درايران مصروف کارهستند . عمرالهي ميگويد : اين اولين مرحله قرارداد جنجال برانگيزبين تهران ومسکو است . امريکابااين معامله مخالفت دارد .

رئيس اداره اتومي ايران طي مصاحبه بي باروزنامه نيويارك تايمز گفت متخصصين چيني به کارروي پروژه جداگانه يي آغازکرده اند که اعماردوکره ذروي درجنوب ايران است .

وي ميگويد شش هزارمليون دالر رادرايران سرمايه گذاري کرده ودرنظردارد ازکره هاي ذروي براي بيست فيصد ضروريات انرژي خوداستفاده نمايد .

وي اين گزارش هارا تکذيب کردکه ايران گرايسمي دارد تکنالوژي ذروي رابراي توليد سلاح هاي ذروي به دست آورد اما اظهار داشت که پروگرام ذروي ايران نسبت به آنچه که قبلاً تصورميشد به مراتب پيشرفت کرده است .

سنگ تهداب مسجد جامع در شهر چغچران گذاشته شد

غور - ۲۵ ثور

سنگ تهداب مسجد جامع قريه هوي شهر چغچران ولايت غور گذاشته شد.

يك منبع ولايت غور به روز نامه شهادت گذارش داد که اين مسجد به کمك مالي محمد خان وهمکاري مردم شريف آن منطقه درساحه چهار جريب زمين اعمار ميگردد گنجايش اضافه از پنجصد تن نماز گذار را در يك وقت خواهد داشت .

مبارزين مسلمان ...

مقامات روسيه که ازحکومت تاجکستان حمايت مي کنند اعلان کرده اندکه درهفته گذشته دوصدتن ازمسلمانان مخالف دولت تاجکستان وشش تن ازعساکرروسي به قتل رسيده اند.

افغانان دطلامثال لري...

اراداکوو اوخداي (ج) ته دادعاکوو چي خداي (ج) دي زموږددي کوښښونوملگري اولارښونکي شي .

ده وويل : په عمومي توگه ويلاي شم چي افغانان دطلابعني سرو زرو په شان دي که چيري طلا په يوځاي کي واچول شي دوخت اوزمان په تيريدو سره شايدخاوري گرد وريباندي ولويږي اماکله چي راوايې اخلي اوگردخاوري ئې پاکي کړي هماغه سوچه طلا به وي.

اعلان

ليسه عالي سانيس وتجربوي «دعوت» براي سال جديدتعليمي خويش شاگردان ذکوررا ازصنف اول الي دوازده وشاگردان اناث را درصنوف ابتدائيه مي پذيرد .

علاقمندان علم ودانش به اداره ليسه واقع کوچه هشتم سرك ناصرباغ مراجعه نمايند.

اعلان

دهرقسمه ټيپونو،راديوگانو او مخابرو دجوړولو اوپرزو «سپيرپارټس» دخرڅولو په جلال آبادښارکي يواځينۍ مرکز .

افغان راديووركشاپ

آدرس : دسپين غرسينماپه مخ کي - نوي دوکانونه - پرزه فروشي افغان

نوټ : دمسجد شريف لپاره لا دسپيکرونه سره دماشين هم ترلاسه کولاي شي .

تيلفون : لمبر (۲۰۳۹)

دفاتحي اعلان

حاجي خواجه مير ورد گ، روزي خان ورد گ ورونه . فضل ربي ورد گ زوي

داکترغلام فاروق ورد گ دسپين دکميټي دصحي چارو مشاورانجنير شيرولي ورد گ ،داکترمحمدولي ورد گ ،قاري محمدمعصوم ورد گ اوداکترمحمدغني ورد گ وريرونه

داکترحبيب الرحمن ورد گ ، داکتر حاجي رحمن ورد گ دخور زامن .

دسپين دکميټي دکارکونکي شهيدمحمدنبي دمړيني له کبله چي جنازه ئي مخ کي په وردگو کي خاوروته سپارل شوي دوستانوته خبرورکوي چي دتاريته و فاتحه دراتلونکي جمعي په ورځ دمي دمياشتي په ۱۹ د ۸ بجوڅخه تر۱۲ بجويوري دراحت آبادپه جامع جومات کي اودېڅوفاتحه ددوي په کورکي اخستل کيږي دوستان دي خبروي .

ادرس : پلوسي روډ - راحت آباد - دمولوي راحت گل په جامع جومات .

اخبارکوتاه جهان

داسرائيلو جنگي الوتکو دلبنان په جنوب کي دمشغاره اوعين التونه کلي او سيمي بمباري کړي دي .

دبمباريو له امله زياني ودانې تسکوري شوي ، خودتلفاتوپه باب دقيق معلومات نه دي خپاره شوي

****

مردم روسيه سفيد امروزبراي شرکت درانتخابات پارلماني وهمه پرسي دراين جمهوري به پاي صندوق هاي رأي رفتند .

هدف ازبرگزاري اين همه پرسي واگذاري اختيارات بيشتربه رئيس جمهورروسيه سفيد درمورد انحلال پارلمان اين کشوردرصورت نقض قانون اساسي عنوان شده است .

****

دهندوکورنيوامنيت وزيرراجيش پايلټ دپاکستان پرخلاف دجنگ اعلان وکړاوخپل حکومت څخه ئي وغوښتل چي دپاکستان په پولو کي خپل امنيتي تدابيرپه ټينگ کړي .

****

سازمان بهداشت جهاني اعلان کرد ويروس ايبولا که مناطق ازکشورزائيررافراگرفته است تحت کنترول درآمده . يکي ازمقامات اين سازمان بااعلان اينکه پنجاه وهفت نفربراثراين بيماري جان خودرا ازدست داده اندميگويد بيشترين قربانيان متعلق به شهري ميباشد که محل نشست اين مکروب بوده است .

****

روسيې اوامريکا ژمنه وکړه ، چي داگست په مياشت کي به خپلي خپلي اتومي فابريکي اودکيمياوي موادودتوليدکارخانې يودبل ماهرينو ته دمعاينې له پاره پرانيزي

****

اردوي تايلند ازيك کمپ پناهنده گان کارين درسرحد تايلند وبرمامقاديرزياد سلاح راضبط کرده است .

يك دسته يکصدوپنجاه نفري قواي تايلند درولايت شمالي مايهونك سونگ اين سلاح ها راگرفته اند که درآن بيش ازدوصد هزار وسيله منفجره راضبط کرده اند .

****

په اشغال شوي کشميرکي دهندي پوځيانو وياند په دي خبره اعتراف وکړ، چي په چرارشريف کي ددوي کماندويانو ۳۰ تنه کشميري مجاهدين په شهادت ورسول .

****

چين ميگويد کشوروي هيچ وقت همسايه گان خودراموردتجاوز وتهديد قرارنخوا هد داد . وزيرخارجه چين دريك کنفرانس منطقوي درپيکنگ اين نگراني ها را رد کرد که چين انکشاف يافته درآسيا به اعمال نفوذ نادرست خوا هد پرداخت .

****

دلوي ا ختر په ورځو کي دپاکستان دکراچي په ښار کي دقرباني ۱۵ زره پوستکي وتښتول شول اوهم دڅيني تنظيمونو دغړو ترمنځ دقرباني په پوستکو وسلوالي نښتې شوي .

****

يك مرمي هاوان بريك مکتب اسلامي درموگاديشو پايتخت سوماليه برخورد نموده ونه طفل را ازبين برده وهجده تن ديگررامجروح ساخته است .

****

دپاکستاني حجاجو کراموليږي ټولگي چي شميرئي ۴۰۰ تنوحاجيانوته رسيده ديکشنبي په ورځ بيرته وطن ته ستانه شول .

****

دالايلاما رهبرروحاني تبت يك پسرشش ساله به نام گيدون چويکي نياماراً به حيث دومين شخصيت بودايي تبت شناخته است .

****

دآذربايجان يوي محکمي دهغي هيواد ددفاع پخواني وزيررحيم گازيف ته په دي جرم چي په ۱۹۹۲ م کال کي د ا ذربايجان له (۲) کليو څخه دفاع نه وه کړي دمرگ سزا واوروله .

****

حکومت خودگردان عرفات اعلان کرد که مهلت يك ماهه به فلسطينيان نوارغزه براي تحويل اسلحه پايان يافته است .

قرارگزارش خبرگذاري فرانسه حکومت خودگردان درچارچوب مبارزه با مبارزين مسلمان فلسطين که مورد درخوا ست اسرائيل است به اين مبارزين فرصت داده بو د تاسلاح هاي خود راتحويل دهند .

****

د سريلانکا په شمالي سيمه کي دحکومتي اوتاميلي وسله والو ترمينځ په جگړه کي (۶۰) تنه تاميلي وسله وال او (۴۰) تنه حکومتي عسکرووژل شول .

****

انفجار بم درنيکارا گوا دوکليساي کاتوليك را ويران کرد قرارگزارش خبرگذاري رويترازمانا گوااين سومين مورد بم گذاري درکليساهاي کاتوليك درنيکارا گواطي هفته گذشته ميباشد . درخبرآمده که علل اين بم گذاري ها تاکنون روشن نميباشد .

****

بقيه سرمقاله

است وفرداي آن تحول معکوسي رخ داده است ، همين غلبه وشکست درازمنه وامکنه مختلف برله ويا عليه طرف هاي درگيردرجريان است وتاحال هيچيك مدعي پيروزي کامل ازراه جنگ نشده است .

ادامه جنگ باعث گرديد که افتخارات بيمثال مجاهدين درپيکار مقدس عليه امپراطوري روس جريحه دارشود، وحدت ملي، استقلال ،حاکميت سياسي وتماميت ارضي افغانستان صدمه ببيندودشمنان اسلام بنحوي ازانحا درامورداخلي افغانستان مداخله نمايند. جنگ نام نيك مجاهدين را بزمين زدوحال تمامي افراد وگروهك هاي ضاله وشبه اسلامي، مجاهدين راملامت مي کنند وجهادرا بعنوان يك فريضه مقدس زيرسوال مي برند . جنگ توان رزمي افغانستان اسلامي را ضعيف کرد، نيروهايش رابه تحليل برد، تجهيزات وامکانات جنگي اش رامنهدم ودرمجموع کشوررا ويران و اقتصاد را تباه کرد .

اگرطرف هاي جنگ طلب سرعقل نيايند و بازهم برجنگ تاکيد نمايند، هستي مادي ومعنوي افغانستان بطور کامل درکام نابودي فرومي رود ونام جهادومجاهدبراي ابدازاذهان جهانيان کوبيده مي شودو درهيچ گوشه جهان براي احدي مجال بالاکردن نام اسلام وجهادباقي نمي ماند و دشمنان اسلام هرسنگي وچوبي را برسراسلام ومسلمين مي شکنند .

باوجود آنکه خيلي ديرشده است چه خوبست که طرف هاي درگيرجنگ افغانستان ،انحصارطلبي، زورگويي وخودکامگي را کنارگذاشته وباالتخاذ مشي مصالحه ،گذشت، رواداري و اخوت باهمديگروارد مذاکره شده وبراي حل بحران افغانستان راه وچاره اي بسنجند .

شهادت

بيانگرعقايدوآرمانهاي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس :انجنيرحکمتيار

ناشر: رياست ارشاد وفرهنگ

تحت نظر هيئت تحرير

آدرس : جلال آباد چکنوري

حساب بانکي : ۸۵۲۹٤ دافغانستان بانك

تيلفون : ۲۹۲۶

آدرس پستي : ۱۰۳۱ يونيورستي تاون پشاور